غوره کوونکی: ډاکتر رحمت ربی ځیرکیار
۱۹ دسمبر ۲۰۱۵

# د زړونو او دماغونو ماینونه

## ۲ برخه

ما ځیرکیار ته یو بې نومه چا له جرمني نه یو کتاب راالیږلی دی او هیله یې رانه کړې ده چې یو څه پرې ولیکم. خو په کتاب او په اِینټر نیټ کې چا د دغه منلي ژورنالیستِ او تاریخپوه د ژوندلیک په اړه څه نه دي لیکلي. اټکل کوم چې افغان ملتی تمایل به یې لاره، یا به یې په افغان ملت ګوند کې دوستان لرل؟ زه له دغه کتاب («د زړونو او فکرونو ماینونه») نه دوه برخې غوره کوم او هره برخه د عبدالجلیل وجدي په خپله وینا کې پربږدم

کتاب د ۱۹۹۹د اپریل په ۴(۱۵ ورى ۱۳۷۸) بشپړ شوی و او په کال۲۰۰۰کې خپور شوی و، او ۲۴۰+ مخونه لري .خپرندوی یې په جرمني کې «د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه» ده، او کتاب د دغې ټولنې د مشر محمّد اصف وردګ په «ځاني مالي پانګه خپور شوی» دی. چاپځی یې «ملت پریس لاهور» دی. که څوک د ښووالد وجدي د ژوند لیک په اړه معلومات لري. هیله ده چې زما سره یې شریک کړي. او س به راشم د وجدي خپلې وینا ته

### (۲) ملي ستم که کلتوري ستم

په وروستیو وختونو کې ځینو کسانو په عجیبه توګه د «پښتون اپارتاید» اصطلاح جوړه کړې ده چې دا اصطلاح په افغانستان کې د ملي ستم په څیر مورد او واقیعت نه لري، یعني دوی غوښتي دي چې ووایي په افغانستان کې پښتنو د اپارتاید پالیسي چلولې ده...که په وچ زور وغواړ چې د افغانانو لیکه او لاره د دې اصطلاح په تنګ قالب کې واچوو نو د معکوس مفهوم اخستلو امکانات یې زیات محسوس دي.

ټول خبر دي چې د ملي ستم نظریه [ د افغانستان]په مارکسیستي [کمونیستي] ډلو کې راپیدا شوه. دې نظریې په خاصه توګه د بدخشان په ولایت کې چې د تاجیکستان د پخواني شوروي جمهوریت سره یې پولې شریکې دي وده وکړه.... کله چې څوک خپله تر پښو لاندې ځمکه نه ویني او لیرې نخښې د نظر په غشي ولي نو بیا د تحقیق نه مخکې قضاوت کوي او دا هغه شی دی، چې د ورکړل شویو تعریفونو له مخې تعصب بلل کیږي....کومو کسانو چې په افغانستان کې د ستم ملي مفکورې ته آب و تاب ورکړی دی هغوی په یو ډول کلتوري ستم سترګې پټې کړې دي او ,,ژبنی اپارتاید،، ته یې پام نه دی کړی. په ځینو خپرونو کې د "سلطان علي کشتمند" د خولې څخه داسې یوه اخیستل شوې

خبره لیکل شوې ده چې په هغې کې یې پښتانه ,,اکثریت بی فرهنګ،، بللی دي. په جنوبي افریقا کې د سپین پوستو اقلیت د تورپوستو اکثریت ته همداسې خبرې جوړې کړې وې. فرق یې یوازې دومره دی چې هلته یو قومي لږکی مسلط و او دلته یو **درباري قشر مسلط** و....که حقیقت ته وګورو د بدخشان د خلکو ممتاز قشر تل په هغه حاکمه دستګاه کې د پیاوړې برخې خاوند و چې د[محّمد] طاهر بدخشي په ګو مان یې ملي ستم چلاوه. مثلا په امانیه دوره [۱۹۱۹تر ۱۹۲۹] کښې محّمد ولي [دروازي] بدخشي [ د کاندید اکادمیسن اعظم سیستاني په وینا ,,سرکردۀ غلام بچګان دربار،، حبیب الله خان] د دولت ډېر قوي مټ و تر دې چې د صدارت عظمی د څوکۍ لپاره په نظر کې نیول شوی و او د اعلیحضرت امان الله خان د نړیوال اوږده سفر پر وخت د ده وکیل اوجانشین و. د [محّمد] ظاهر شاه د سلطنت په موده کې علي محّمد خان د دربار وزیر هم بدخشی و. د دربار وزیر په اصطلاح تل د ښي مټ له وزیرانو څخه وي او معمولا هغه څوک وي چې د پاچا د مرګ او ژوند مسأله تر ډېره حده ورسره ارتباط لري. همدغه مدبر او محترم شخصیت د مرحوم محّمد داوود خان د صدارت عظمی په موده کې د صدارت لومړی مرستیال و.... د ده زوی[حقوقپوه] حمید الله د هغو محترمو او باوري کسانو څخه و چې د لمریز ۱۳۴۳[۱۹۶۴] د اساسي قانون [ د تسوید] په کمیټه کې د غړیتوب چانس ورکړل شوی ....امیر عبدالرحمان خان د بدخشانیانو زوم و. امیر حبیب الله خان د ده د بدخشی ښځې ګلریز څخه زیږیدلی و. کله چې حبیب الله خان برتانوي هند ته په سفر لاړ نو یوې انګریزې خپروني (ویسټ مینیسټرګازیټ*/ عموماً رسمي خپرونه) د ده مفصله سوانح لیکلي وه او په هغې کې یې څرګنده کړې وه چې د امیر عبدالرحمان خان د محّمد زئ ښځې بي بي حلیمي زوی سردار محّمد عمر خان و چې مور یې د نسب په سلسله کې د امیر دوست محّمد خان[۱۸۲۶ تر ۱۸۶۳ د بارکزی واکمنۍ مؤسس] له نمسیانو څخه وه خو د پاچاهۍ چانس د ګلریزې زوی حبیب الله خان تر لاسه کړ. د ده [حبیب الله خان: ۱۹۰۱تر ۱۹۱۹] په دوره کې په پښتنو کې د کلتوري ستم اندازه دومره زیاته وه چې ملي ژبه پښتو هغه وخت د پوهنې په نصاب کې د انګریزي ژبې په څیر اختیاري وه یعني څومره چې انګریزې پردۍ بلل کیده، هغومره پښتو پردۍ او غیر ضروري وه. دا ځکه چې د دربار رنګینیو او شخصي خپلویو د ده احساس هم له پښتنو څخه پردی کړی و. بله خبره داده چې پاچاهانو تل د یو معمول په توګه د خپلي حکمرانی د بقا لپاره یو قوم له بل قوم سره اچولی دی. د مثال په توګه امیر عبد الرحمان خان د افغان او انګلیس د دوهم جنګ قهرمان غازي محّمدجان خان مزارشریف ته د تګ[تبعید] په لار کښې د ازبکانو په لاس په شهادت ورساوه.



غازي محّمد جان خان وردګ

په همدې ډول ده خپل ځینې نور هغه مظالم چې په نورو قومونو یې کول د پښتنو په لاس سرته رسولي دي. ببرک کارمل او نجیب زموږ د زماني دوه نور همداسې ستمکاران وو چې یو قوم یې په بل قوم باندې ځپلو. دا بل څوک نه و نجیب و چې د پښتنو د ځپلو او شرمولو لپاره یې ...د [عبد الرشید]دوستم څخه ستر قهرمان جوړ کړ .... دا له شکه

وتلې خبره ده چې د افغانستان د هرې زماني په حاکمه دستګاه کې د افغانستان د ټولو اقوامو افراد شامل وو او د دولت بیروکراسي تر ډېره حده د دري ژبو په لاس کېښي وه. نو هر استبدادي حکومت چې د افغانستان په ټولو خلکو کوم استبداد چلولی دی هغه داسې ستم نه دی لکه چې ستمیانو فکر کړی دی. یا نورو په دوی کېښي داسې فکر تلقین کړی دی خو هغه کلتوري ستم چې په پښتنو تحمیل شوی دی ډېر زیات محسوس دی. مخونه ۲۰۷ تر ۲۱۱

* دهغه وخت د انګریزي اخبارونو د کټینګونو یو کلیکسیون د کوټې د ښار د یو پخواني ښاروال سردار محّمد ایوب خان وردګ د انتیکو اثارو په شخصي موزیم کې خوندي دی
۱۸ دسمبر۲۰۱۵=۲۶ لینده/قوس ۱۳۹۴